# د پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار

## د اتیایم زیږ پسرلي د غونډې

## لیکنو، ویناوو او پیغامونو ټولګه

### اوډ او سمون

### پوهنیار سید اصغر ها شمي

هغه کتابونه چې سمسور وو بپاڼې پرلیکه کړې او یا یې پر
لیکه کوي، نور څوک یې
پر لیکه کول اجازه نه لري

WWW.samsoor.com

WWW.samsoor.com

# د ننګرهار پوهنتون رياست پيغام

درنو حاضرينو !

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

زموږ د علمي او فرهنګي شخصيتونو د ژوند ، کارنامو او هلو ځلو د څېړلو او نمانځلو لپاره ، چې د هې،اد په کچه کوم قدم اخيستل کېږي؛ نو زموږ هيله دا وي، چې ننګرهار بايد د دغې بهير بيلامه وي، ځکه زموږ ټول هېوادوال دا مني، چې ننګرهار د هېواد د فرهنګي مرکز په توګه خليدلی او منل شوی دی.

د پښتو په اړه دا خبره ډېره کېده، چې دوی په ژوندیو کې ښه نه لري او په ژوندانه د خپلو اقدارو په قدر نه پوهېږي، له نيکه مرغه دا دی دا دود په ماتېدو دی، زموږ فرهنګي حلقې اوس ژوندي هم ستايي، د دې نمانځنو او ستاينو په لړ کې نن د ننګرهار ولايت اطلاعاتو او فرهنګ رياست د حقدار استاد ، شاعر، ليکوال او ستر ژبپوهاند ښاغلي دوکتور زيار صاحب اتيايم زيږ پسرلي په اړه غونډه جوړه کړې، مننه ترې کوو او کور وداني ورته وايو.

استاد زيار د ژبپوهنې استاد په نوم ډېر پېژندل شوی، رښتيا هم په ټول سرتاسري پښتونخوا کې د استاد زيار په کچه په ژبپوهنه کې بل چا کار نه دی کړی، په ژبپوهنه کې دومره کار نه له استاد وړاندې چا کړی او نه يې شايد وروسته او له نړۍ والو معيارونو سره يې برابر کړ، ښاغلی پوهاند صاحب د پښتو نويو ويونو جوړلو (نيولوګيزم) سرلاری دی، په رسينو کې د پښتو ځينې سوچه کلمې د استاد د هڅو برکت دی، نوموړی په

حقیقت کې د راتلونکو نسلونو استاد دی، موږ ډاډه یو، چې د ده حق به راتلونکي ادا کړي او دده هڅې به په راتلونکي کې رنګ راوړي.
د استاد شعر هم له نثره کم نه دی او ښکلې شاعري یې کړې، نوموړی د سوچه پښتو پلوي دی، خپل ټول اثار یې په سوچه پښتو لیکلي او له نورو هم همدا هیله لري.
محصلینو، استادانو او څېړنکو ته مو وړاندیز دی، چې د استاد ټول اثار دې ولولي، ځکه چې په ژبپوهنه کې د استاد نوښتونه یې ساري دي، له پانګه والو مو هیله ده، چې د نوموړي اثار چاپ کړي او تر خلکو یې ورسوي.
ننګرهار پوهنتون هڅه کوي، چې په راتلونکي کې د داسې غونډو کوربه وي او د ژبپوهنې په برخه کې د استاد اثار په تدریجې ډول د ژبو او ادبیاتو پوهنځي په کریکولم کې شامل کړي.

په فرهنګي ولولو
پوهندوی ببرک میاخېل
د ننګرهار پوهنتون رئیس

WWW.samsoor.com

## د افغانستان د اسلامي جمهوریت اجرائیه رئیس
## ډاکټر عبدالله عبدالله پیغام

د پوهاند ډاکتر مجاور احمد زیار د اتیایمې کلیزې په مناسبت ، علمي سیمینار ته د افغانستان اسلامي جمهوریت د اجرائیه رئیس جلالتماب ډاکټر عبدالله عبدالله پیغام !
د خوښۍ ځای دی، چې د ننګرهار لیکوال او فرهنګپال ، نومیالی الغان لیکوال او ژب پوه پوهاند ډاکټر مجاور احمد زیار د اتیایمې کلیزې په مناسبت علمي سیمینار جوړ کړی دی، زه پوهاند صیب ته د اتیایمې کلیزې مبارکي وایم او د سو کاله ژوند هیله ورته کوم.
د پښتو ژبې د ودې او پراختیا په برخه کې د استاد نه ستړې کېدونکې ،هلې نه هېریدونکې دي، چې د کلونو کلونو لپاره به د پښتو ژبې د لیکوالو او څېړونکو د لارې مشال وي، زه هیله من یم ، چې ځوان څېړونکي د استاد له لوري د ژب پوهنې په برخه کې رامنځته شوي بنسټونه لا پسې غښتلي او پراخ کړي.
پوهاند زیار سره له دې چې د غربت په دیار کې یې د ژوند شپې تېرولې؛ خو هیڅکله یې خپله هېوادنۍ مینه له یاده ونه ایسته، بلکې د خپل هېواد خلکو او ژبې پر وړاندې یې د مسوولیت په درک کولو سره بې شمېره کتابونه ولیکل، د کتابونو سکالوکانې یې تل نوي مسایل وي، چې له دې وړاندې پرې یا په پښتو کې چا کار نه وي کړی او پرې ډېر لږ کار شوی وي.
زه د استاد د ادبي او څېړنیزو هڅو ستاینه مننه کوم، چې په هر ډول سختو حالاتو کې یې قلم نه دی غورځولی دی، بلکې له دې لارې یې له هر ډول امتیاز پرته خپلې ژبې او خلکو ته خدمتکړی دی، هیله من یم ، چې د پوهاند زیار له اثارو څخه د هېواد په پوهنتونونو ، علومو اکاډمۍ او

نورو اکاډمیکو مرکزونو کې په ځانګړي ډول په پوهنیز نصاب کې اساسي کتنه وشي.

دا د خوشالۍ ځای دی، چې د استاد په ژوندوني د علم او ادب زانګو ننګرهار کې د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست په مشرۍ د لیکوالو او فرهنګیانو له لوري د پوهاند ډاکټر مجاور احمد زیار ستاینغونډه جوړیږي، زه د دې غونډې له جوړوونکیو او سمبالوونکیو څخه مننه کوم، چې د دغې درنې غونډې د جوړېدو لپاره یې خولې تویې کړي او له پاک رب نه ورته اجرونه غواړم.

په درنښت

ډاکټر عبدالله عبدالله

د فغانستان د اسلامي جمهوریت اجرائیه رئیس

WWW.SAMSOOR.COM

د پوهاند ډاکټر مجاور احمد زیار د اتیایمې کلیزې په ویاړ علمي غونډې ته د افغانستان د علومو اکاډمۍ پیغام:

# بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

پوهاند ډاکټر مجاوراحمد زیار زموږ د هېواد له پیاوړو ژبپوهانو څخه دی، لوړ علمي او ادبي شخصیت یې له ګڼو اړخونو څخه برخمن دی، د پښتو ژبې د معاصر فرهنګي بهیر د وتلیو او منلیو څېرو په لیکه کې ځای لري، پوهاند زیار د پښتو ژبې او ادب د معاصر پېر هغه ځلانده څېره ده، چې د خپل خواږه ژوند لویه برخه یې د پښتو ژبې او ادب په علمي او فرهنګي ډګر کې نه ستړو کېدونکو هلو ځلو ته ځانګړې کړې ده، د پښتو ژبې د علمي او کره کېدو لپاره یې په لسګونو څېړنیز، ژبپوهنیز علمي، ادبي تاریخي آثار او مقالې علمي ټولنو ته وړاندې کړي دي، چې د پښتو ژبې ژبپوهنې، ادب، تاریخ، فرهنګ او نورو مسایلو په اړه دي.
پوهاند زیار پیاوړي لیکوال څېړونکي، شاعر، کره کتونکي، ادبپوه، ژبپوهاند  او د پښتو ژبې او ادبیاتو استاد دی، چې آثار او افکار یې د پښتو ژبې او ادب په وده او پرمختیا کې ارزښتناکه ونډه لري او د افغانستان په معاصرو لیکوالو او څېړونکو کې د یو حقدار پښتون لیکوال او څېړونکي په توګه د پښتو د نوې ژبپوهنې د علمي مسایلو د بنسټګرو په لیکه کې ولاړ دي.
له نېکه مرغه پوهاند زیار نن له موږ سره دی اوس، چې په ننګرهار کې د هغه اتیایمه کالیزه نمانځل کېږي، د افغانستان د علومو اکاډمي د هېواد د لوړې علمي، فرهنګي ادارې په توګه د یادې غونډې د جوړوونکو دا فرهنګې هڅه ستایې او په دې هیله یاستو، چې پوهانو او څېړونکو به د

خپلو لیکنو او څېړنو په ترځ کې د پوهاند زیار د ژوند ، اثارو او افکارو په اړه هر اړخیزې څېړنې کړې وي او د دې غونډې د مقالو ټولګه به په ګانده کې څېړونکو د ادبیاتو زده کوونکو او مینه والو ته یوه غوره او باوري معلوماتي سرچینه وګرځي، په پای کې د لوی خدای په دربار کې پوهاند زیار ته د اوږد او خوشحاله ژوند دعا کوو او د دې غونډې جوړوونکو ته د لا غوره فرهنګي خدمتونو د سرته رسولو لپاره د بریالیتوبونو هیله کوو.

په درنښت

څېړنپوه ثریا پوپل

د افغانستان علومو اکاډمۍ د ریاست (سرپرسته ) لخوا

WWW.SAMSOOR.COM

د نومیالي ژبپوهاند دکتور مجار احمد زیار
د اتیایم پسرلي په ویاړ د هغه د علمي او فرهنګي خدمتونو نمانځغونډې
ته
د سلاکار وزیر او د ننګرهار والي پیغام !

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

درنو استادانو ، قدرمنو علمي او فرهنګي شخصیتونو ، زړه ته رانږدې قلموالو او د نومیالي ژبپوهاند دکتور مجاور احمد زیار د علمي او فرهنګي خدمتونو په پار د جوړې شوې نمانځغونډې ښاغلو او اغلو برخه والو !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

د پښتو ادب ریالیست لیکوال او شاعر ګل پاچا الفت وايي:

ډېر تفاوت شته په انسان کې د معنا په لحاظ
واړه مشغول دي، ځینې ځان ځینې جهان جوړوي

نن موږ او تاسو د هغه لوی استاد د خدمتونو نمانځغونډې په نیت سره راټول شوې یو ، چې د ژوندانه اتیا پسرلي یې دې هېواد ، پښتون ولس، پښتو ژبې او پښتون قام ته مثبت او غنمیت ثابت شوي ، د ویاړ ځای دی، چې دکتور ژبپوهاند استاد مجاور احمد زیار پښتو ژبې ته هغه خدمتونه وکړل، چې تر ده پخوا په دې برخه کې چا نه وو کړي ، یا که شوي هم وو ډېر کم وو ، هغه د ژبې سوچه والي او کره والي ته د پښتو د اصیلو لغاتو نعمت وباښه او د ژبپوهنې په برخه کې یې زښت زیات کتابونه ولیکل.
استاد زیار د ژوند له اتیا پسرلیو سره داسې ملګرتیا کړې، چې یوه شېبه یې خپل فکري او فزیکي خواک، فکر او احساس د ژبې او قام له خدمته نه دی ، غافله شوی، د شکر ځای دی، چې وایي اوس هم د ورځې لس ساعته

کار کوي او د خپلې ژبې د غنا او له نورو ژبو سره سیالۍ په لاره کې یې د کار هوډمني ځوانه ده.
دکتور زیار صاحب په ډېره مینه، سپېڅلتیا او متانت د ژبې په برخه کې د ستاینې وړ خدمتونه کړي، پښتنې لهجې او پښتنې ژبنې ارزښتونه یې په پوره ځیرتیا او دقت څېړلي او راتلونکي نسل ته یې د سوچه او کره پښتو د ښار دروازې پرانیسي دي.
د استاد د هڅو او هاند له برکته ده، چې اوس مهال زموږ په پوهنتونونو کې د ده له اثارو ګټه پورته کېږي، لیکوال او قلموال دده پر لار قدم ږدي او دده خدمتونو ته د قدر په سترګه ګوري.
همدې ویاړونو موږ دې ته وهڅولو ، چې د قدرمن دکتور زیار صیب د ژوندانه د اتیایم پسرلي په بانه د هغه د علمي او فرهنګي خدمتونو ستاینه او قدرداني وکړو او اوسني نسل ته دا جوته کړو ، چې پښتو ژبه بې کسه نه ده او لاخو د استاد زیار په څېر لوییې هستۍ لرئ، دغه ډول نمانځغونډې تولنې او خلکو ته فکر ورکوي، له ژبې او ژبني ارزښتونو سره لېوالتیا او احساس ویښوي، خلک دې ته خیر کوي، چې پښتو ژبه د کار سړي لري، لاهم دا ژبه شمله ورلري او لا هم دا ژبه ژوندۍ او پرمختګ پړاوونه وهي.موږ د دې نمانځغونډې د جوړېدا له امله له تاسو ټولو قدرمنو د زړه له تله مننه کوو، چې تشریف مو راوړی او د دې نمانځغونډې برخه وال یاست ، له هغو ښاغلو هم مننه کوم ، چې د دې نمانځغونډې په جوړېدا کې یې هلې ځلې کړې دي.

د استاد زیار د ژوندانه او هڅو د لاډېرو پسرلیو په هیله

په درنښت

محمد ګلاب منګل

سلاکارزیر او د ننګرهار والي

www.samsoor.com

د لوی او ښښونکي خدای په سپېڅلي نامه
د علم او ادب مینوالو، درنو ګډونوالو، مشرانو، کشرانو، خویندو او ورونو !
سلامونه او نېکې پېرزوینې مې ومنئ.
ویاړم، چې په داسې یوه پرتمینه غونډه کې برخه اخلم، چې د خپل استاد او لارښود، ژبپوه، څېړونکي، ژباړن، شاعر او د پښتو او ادب د ځلانده ستوري پوهاند ډاکټر مجاور احمد زیار د اتیایمې زوکالیزې په ویاړ جوړه شوې ده. پوهاند ډاکټر مجاور احمد زیار د پښتو او ادب هغه ځلانده او مخکښه څېره ده، چې په خپلو ادبي پنځونو، څېړنو او ژباړو یې د پښتو او ادب پانګه بډایه او تلپاتې ساتلې ده. د استاد لوړ خیال، ژور فکر، علمي او ادبي هلو ځلو، پوهنیزو او روزنیزو څېړنو، هنري او شعري پنځونو او لیکنو، همدارنګه د ده علمي او فرهنګي هڅو په پښتو ادبیاتو کې د هنر او پوهې ډېوې بلې او روښانه ساتلې، زیار صیب د خپلو ادبي او علمي هڅو تر څنګ ډېر شمېر رسنیزې لیکنې او شننې د هېواد په ورځپاڼو، مجلو، مهالنیو خپرونو، راډیو ګانو او تلویزونونو کې د ملي ژبو سربېره په انګریزي او الماني ژبو خپرې شوې دي. زیار صیب ډېره وخت په پوهنتون کې د یو اکاډمیک استاد په توګه خپل نیم ژوند ښوونې او روزنې ته ځانګړې کړی او په دې برخه کې یې ډېر شاګردان روزلي او پاللي دي، د دې سپېڅلې دندې سربېره یې ګڼ شمېر علمي، ادبي، فرهنګي، څېړنیز او تحقیقي اثار لیکلي، چې یو شمېر یې اوس د پوهنتونونو په درسي نصاب کې هم شامل دي، چې زمونږ نني او راتلونکي نسلونه به ترې خپله ژبه، فرهنګ او ادب زده کوي. پر دغه ټولو هڅو سربېره زیار صیب د یوې کره لیکنۍ پښتو، او نوي ازاد پښتو شعر غبرګ غور څنګونه هم له سترو بریو او نوښتونو سره پر مخ وړي او په دې برخه کې یې پښتو ژبه د نړۍ د نورو ژبو سره سیاله کړې ده او دا هڅې یې د

پښتو ادبیاتو په تاریخ کې په زرینو کرښو لیکل شوې دي.زیار صیب د خپلو ټولو ادبي، علمي، فرهنګي او څېړنیزو فعالیتونو سربېره ښه شاعر هم دی، د ده شاعري یو ځانګړی سبک لري، نوموړی په خپلو شعرونو کې د پښـــتني چاپیریـــال غمیـــزې، کړاوونـــه، ناتارونـــه ، ســـتونزې او نیمګړتیاوې، د ژوند دردونه د پښتو ژبې په بېلابېلو شعري قالبونو کې په ډېرو لوړو خیالونو او نوښتګرانه انځورونو او سمبولونو کې په ژوره ټولنزه انساني او پښتني افغاني مینه په خپله خوږه او نرمه ژبه رانغاړي او په دې برخه کې یې اثار د کیفیت او کمیت له پلوه غني دي، نوموړي د پښتو شعرونو سربېره په پارسي ، انګریزي او الماني ژبو هم شعرونه لیکلي دي.هېره دې نه وي، چې زیار صیب د اوسني پښتو ادب هغه سرلاری شاعر دی، چې نورو شعري قالبونو ترڅنګ د ازاد او سپین شعر یو تکړه لارښوود او شنونکی پاتې شوی او په دې برخه کې یې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي، زیار صیب هغه نوښتګر شاعر دي، چې ځوان شاعران هڅوي تر څو نوې او ملي شاعري وکړي.د پښتو ژبې او ادب له پاره د زیار صیب پنځونې هغه ډیوې دي، چې تر ډېرو به بلې او روښانه وي الله تعالی دې زیار صیب ته ډېر عمر ورکړي تر څو د پښتو ژبې او ادب مشالونه هم داسې ځلانده واوسي.

له پاملرنې مو یوه نړۍ مننه

په درنښت

پوهمل غلام نبي فراهي

پارلماني چارو کې د دولت وزیر

WWW.SAMSOOR.COM

د پوهاند ډاکټر زیار د اتیایمې کالیزي ، علمي غونډي ته !
یه د بیټ نیکه زوزاته ! نوره نړۍ پر ځای پریږدئ، له خپلو نژدې تر بورانو ؛خو یو لوست واخلئ ! (زیار).
لرغونپوهنه د پوهاند دوکتور زیار له څېړمو څېړنېزو بوختیاوو څخه:
له لرغونو زمانو راهیسې بېلابېلو پوهنیزو څانګو د خپل پر له پسې یون په ترخ کې د انسان ، انساني ژوند او چاپېریال په تړاو زیات پټ رازونه څرګند کړي او ناسپړلي غوټې راسپړلې دي، د پوهنیزو څانګو دا یون د انساني اندونو او فکرونو د لاغوړېدو پر لار مخ پر وړاندې درومي او چټکي یې د مهال په تېریدو زیاتون مومي.
د پوهنیزو څانګو دا نه تم کېدونکی یون هغه ربښتینی تاریخ دی، چې لارویان یې یا له سترو ماتو او غمیزو سره مخ کړي او د سر په ورکړه ورته پربوتي او یا یې د ویاړ هغې کچې ته رسولي ، چې د سر لوړۍ تر ټولو ستر خول (تاج ) یې ور په سر کړی دی، دا د پوهنیزو څانګو د پر له پسې یون ربښتینوالی دی، چې باید پر مخ تللی وای، د پوهنیزې څانګې هغه لاروي ، چې د خپل سر په ورکړه او د سر په بیه یې پکې پرمختګ کړی او یا هغه ، چې د همدې پوهنیز یون د پرمختګ په اړه یې خپل سر ته د ویاړ تاج ګټلی دی، دواړه د دې نه ت م کېدونکي پوهنیز یون د بریالیتوب لوړې ځوکې دي، چې هم یې لاروي ابدي کړي او هم یې پوهنیز یون ربښتینوالی څرګند کړی دی.
د انساني اندونو تاریخ دا راڅرګندوي، چې د بشري ټولنو اندونو او واندونو (فکرونو او خیالاتو ) د زماني په لمن کې د پوښتنو له رامنځته کولو او هغو ته له ځوابونو پیدا کولو سره یو ځای پرمختګ کړی دی، د پېښو زېږېدل او یا مخې ته راتلل ، انسان پوښتنې ته اړ ایستلی او انساني اندځواک یې د ځواب موندلو هڅه کړې ده، اوس مهال هم د

پوهنیزو ځانګو د ودې او پایښت بنسټیزه لاره د پوښتنو رامنځته کول او هغو ته د ځواب موندلو لړۍ ده؛ خو په دې یوه توپیر، چې د پخوانیو پوهنیزو کړیو (حلقو)، تر منځ به د ټولیزو (کلي) افادو او پوښتنو لپاره د پر له نښتو ځوابونو د پیدا کېدلو لار په ګوته کېده او څرګندېده، په داسې حال کې، چې په او سمهالي پوهنیز چاپېریال د ځانګړو پوښتنو لپاره د ځواب ویلو ځانګړې ځانګې شته. دا د پوهنیزو ځانګو د پنځولو او منځ ته راوستلو بنسټیز لامل دی، چې لومړی یې اندیزه (تیوریکي) بڼه جوړه شوې او وروسته یې د بشپړې پوهنیزې ځانګې په توګه د نورو ځانګو تر څنګ ور دریځ موندلی او پیاوړی کړی دی.
زموږ په هېواد کې هم د پوهنیز یون لړۍ همداسې پایښت موندلی، د شلمې پېړۍ په پیل کې د نوې پوهنیز سیستم بنسټ کښېښوول شو، دودیزې زده کړې او دودیزې کړنلارې او څېړنلارې ورو ورو نوې شوې او له نړیوالو پوهنیزو ارونو سره سم یې په ښوونځیو او پوهنتونو کې د نوي پوهنیزې پښت د روزنې او پالنې لارې چارې پیل شوې، د نوي پوهنیز چاپیریال په منځ کې د انساني پوهنو د نورو نویو ځانګو ترڅنګ لرغونپوهنه (ارکیالوجي)، پخوانۍ لیکپوهنه (پالیو ګرافي)، سېکه پوهنه (نومسماتیک) او یو شمېر نور یې خپلواکې ځانګې د پام وړ وګرځېدې، له دې سره سره، چې په ددغو ځانګو کې لومړني څېړندویان او مخکښان بهرنیان او په ځانګړې توګه له اروپایي هېوادونو څخه راغلي او یا راغوښتل شوي، پوهان ول؛ خو زمونږ په هېواد کې د نوي روزل شوي پوهنیز (اکادېمیک) پښت نوښتګرو پوهانو او څېړونکو هم د دې ځانګو د ودې او پرمختیا لپاره داسې ډاډمن ګامونه پروته کړل، چې یو خوا د خپل مهال بهرنیو څېړونکو ته مل او مرستندوی وګرځېدل او

WWW.SAMSOOR.COM

بلخوا يې د راتلونکي افغاني پوهنيز پښت لپاره د زيات پرمختګ لاره پرانېسته.

لرغونپوهنه زمونږ په هېواد کې د يو خپلواک د سبپلين په توګه د افغاني نامتو پوهانو خداى بخښلي استاد احمد علي کهزاد ، خداى بخښلي شاهي باى مستمندي، ښاغلي زمريالي طرزي، پوهاند دوکتور الفشاه ځدران او مرحوم پوهاند حسن ضمير ساپي له نومونو سره تړلي ياديږي.

استاد کهزاد او مستمندي له بهرنيو لرغونپوهانو څخه افغاني پوهنيز ډګر ته د لرغونپوهنې څانګې د رالېږدونې خورا ارزښتمنې چارې تر سره کړي، هم يې په سپړنو او کېندنو کې برخه واخيسته او هم يې د څېړنيزو چارو په پاللو کې، د هغو د کارو زيار پر بنسټ لرغونپوهنه د يوه خپلواک د سبپلين په توګه افغاني پوهنيز ډګر ته راوپېژندل شوه، د دې پوهنيزې څانګې د دودونې او پراخونې پر لور د پوهاند ځدران ، پوهاند ضمير ساپي او زمريالي طرزي ونډه بيا خورا غوښنه او نه هېرېدونکې ده، د لرغون پوهنې د څانګې د نوموتيو مخکښانو راوروسته يو ګڼ شمېر ځوان لرغونپوهان او څېړونکي د دې څانګې چوپړ ته چمتو شول او دا څانګه يې د ځانګړي مسلک په توګه د نورو د پام وړ وګرځوله؛ خو هغه شمېر افغان پوهان او څېړونکي د ګوتو په شمار دي، چې لرغونپوهنه يې د خپل ځانګيزو موخو د ترلاسه کولو په موخه کارولې ده.

پوهاند دوکتور زيار په افغانستان کې يو له هغو مخکښو او ځانګړو افغان څېړندويانو او پوهانو څخه دى، چې لرغونپوهنې ته يې د يوې خپلواکې پوهنيزې څانګې په توګه کتلي او په وده او پراختيا کې يې هومره اوچته ونډه اخېستې ده، چې ارزښت يې د يوه مخکښ ځانګيز لرغونپوه په کچه ارزول کېداى شي.

يو خوا يې د خپلو څېړنو او پلټنو لپاره له لرغونپوهنې څخه د يوې مرستندويه څانګې په ډول ګټه پورته کړې او له بل لوري يې د لرغون

پوهنې په تړاو د ارزښتمنو څېړنيزو اثارو په ژباړلو سره په هېواد کې د لرغونپوهنې څانګه بډايه کړې ده، د دې ترڅنګ يې په ځينو سيمو کې هم سپړنو بريالۍ چارې ترسره کړې او هم يې د يوه لړلاس څېړونکي په توګه د هېواد د يو شمېر لرغونو سيمو انځورونه برابر کړي او تر څېړنيز مرکزونو يې رسولي دي.

دوکتور زيار په خپلو زياتو څېړنيزو اثارو او ليکنو کې د وړاندې شويو اندونو او افکارو د پخلي او سپيناوي لپاره د لرغونپوهنې برياوي په خورا اغېزمه بڼه کارولې دي، ترڅنګ يې د پوهنيزو څانګو هغه دوه اړخيزې اړيکې هم جوتي کړي دي، چې د موخو (د هدفو) له اړخه سره ورته پوهنيزې څانګې يو بل ته اړتيا لري، د دې وينا د پخلي لپاره يې له نورو ګڼو ليکنو څخه يوازې ((پښتو او پښتانه د ژبپوهنې په رڼا کې)) اثر څخه د څو بېلګو ياونه کوم:

د ((پښتو او پښتانه د ژبپوهنې په رڼا کې))، اثر په ۱۷ مه پاڼه کې يې د کوچي ټبرونو د مېشتځايونو د سپيناوي لپاره د انګريزي لرغونپوهنه د څېړنو پايله داسې را اخيستې ده: (د انګليستان تلويزيون څلورم چېنل د ۱۹۹۹-۰۴-۱۹ پر ماښام د وګړپوهانو يوې ډلې د سيکيانګ په تکله مکان کې يو شمېر لرغوني موميايي شوي مړي وڅېړل او په ډاګه يې کړه، چې هغه له اوسنيو تورک – مغولو استوګنو سره نه، بلکې له بېلابېلو کوچياني ټبرونو سره اړخ لګوي، چې له ققفاز او نورو سيمو څخه له مخزېږيو ۶-۷ مې پيړۍ پورې هلته راغلي، مېشت شوي او واکمنۍ ته رسېدلي دي).

د همدې اثر په ۲۰ مه پاڼه کې د خوتن د پاچا نوم د هغه ډبر ليک په يادولو زباډوي، چې د تورکستان په ختيځ کې تر لاسه شوي دي، په دې اړه ليکي:

WWW.samsoor.COM

(زموږ د ژبې زړې ترينې نښې نښانې د لومړۍ اودويمې زېږدي پېړۍ هندي ډبر ليکونو پـه ځينو وييونو کـې ليـدل کېږي، چـې لـه کوشـانيانو سـره اړه پيدا کوي.او هغـه هم پـه هغـو پـور وپـپونـو (مسـتعارو لغتونـو ) کـې چـې د ختيـځ توركسـتان پـه ډبـر ليكونـو کـې د دريېمې زېږدي پېړۍ تـر پـايـه را رسي، له دغو ليكنو څخه په يوه کې د خوتن د پاچا نوم راځي، چې هينيها (Hinajha ) (يا پـه خوتن ساكي ژبـه هينايسا (Hinayasa ) سر لښكر يې ستاينوم (لقب ) وو. او په دې ډول نورې زياتې بېلګې شته، چې په دې لنډه ليكنه کې يې د پوره سپړلو شونتيا نشته.
پوهاند دوكتور زيار يوازې دا چې د تاريخي ژبپوهنې په چوكاټ کې يې د خپلو پوهنيزو او څېړنيزو هڅو د سپيناوي لپاره د لرغونپوهنې لـه برياوو څخه ګټه پورته کړې، بلكې د لرغونپوهنې د لا بډاينې او پراختيا لپاره يې هم داسې ارزښـتمن ګامونـه پورتـه کړي، چې زمـوږ پـه هېـواد کـې يـې نـه لرغونپوهنه او نه لرغونپوهان هېرولای شي، د دې وينا د سپيناوي لپاره د افغاني لرغونپوهنې پـه ډګر کـې د هغـو دوو ارزښـتمنو اثـارو يادونـه كـوم، چې د بهرنيونامتو لرغونپوهانو له لوري ليكل شوي او د پوهانـد زيـار پـه نوښت پښتو ژبې ته راژباړل شوي دي.
لـومړۍ د المـاني لرغـونپـوه پـاول بـوخرا (Paul Bucherer ) اثـر (Die Aspekte und problem traditioneller Bau- und Wohnformen im Gebiet des Afhganischen Hindukusch )
چې په اروپايي څېړنيزو کړيو کې يې لوړ دريځ خپل کړی دی، دا ارزښتمن اثر پوهانـد زيـار پښتو ژبې تـه راژباړلی دی او پښتو نوم يې (پښـتانه او ورونـه مليتونـه، ګډه پېښـليک ، ګډه برخليـک ) ورټاکلي ، دغـه کتـاب پـر ۱۳۶۲ لمريز کـال د افغانسـتان جمهـوري دولـت د چـاپ او خپرونـې دولتـي كومېټې له خوا لـه ګڼو انځورونـو سره يـو ځـای پـه ۲۷۵ مخونـو کـې خپـور شـوی دی، پـه دې ژبـاړې سـره نـه يـوازې دا چـې د يـوه نـامتو اروپـايي

لرغونپوه اثر په افغانستان کې د لرغونپوهنې څانګې اړوندانو ته وپېژندل شو ، بلکې د يوه ډاډمن اخځ په توګه د افغاني لرغونپوهانو له لوري د ګټې وړ هم وګرځېد ، د دې اثر منځپانګه د افغانستان لرغونې تاريخ او په افغانستان کې د مېشتو ژبتوکميزو ډلو تپلو انځوريزه اتنو لوجيکي څېړنه نه ده.

د پوهاند زيار په نوښت د لرغونپوهنې په ډګر کې پښتو ژبې ته دويم راژباړل شوي ارزښتمن څېړنيز کتاب ، د الماني نامتو لرغونپوه هېلموت هو مباخ (Die Kaniska-inschrieft Von Surkh-Kotal) نومي اثر دی، چې په ۱۹۲۰ زيږدي کال خپور شو. او د هېواد کې تر ژباړلو وروسته په لوري ۱۹۹۰ زيږدي د افغانستان د علومو اکاډمۍ د لرغونپوهنې څانګې له لوري ((د کنېشکا د سره کوتل ډبر ليک (باختري ژبه) )) ، تر سرليک لاندې په ۱۲۲ پاڼو کې خپور شو ، د دې اثر منځپانګه لکه، چې له نامه څخه يې ځرګنديږي، د بغلان ولايت د سره کوتل له سيمې څخه د ترلاسه شوي، لرغونې ډبرليک متن دی، دا څېړنيز اثر يو خوا د اروپايي ژبپوهانو او لرغونپوهانو ډلې او د هغو د ژباړنو او شننو پايلې دي، چې د ياد شوي ډبرليک په برخه کې يې تر سره کړي دي او له بل پلوه په افغانستان کې د پاليو ګرافيکي څېړنه لرمړنۍ بشپړ پښتو ژباړل شوی اثر ګڼل کېږي.

همدا راز د سمنګان د رباطک ډبر ليک پښتو ژباړه ، چې د سره کوتل له هغه سره يې زمانې واټن نيمه پيړۍ کېږي، د کوشاني (باختري) ژبې د دويم تازه لاسته راغلي لاسوند او د لندن د ختيزو ژبو د منځۍ soas نوميالي ليکپوه پروفېسور سيمز ويليمز په انګرېزۍ ژباړلي او شنلي، په نوموړي ډګر کې د پوهاند زيار له نويو برياوو څخه ګڼل کېږي، (فردا مهالنۍ د تېرو څو کلو ګڼه، ستو کولم).

WWW.SAMSOOR.COM

پوهاند دوکتور زیار د خپلو مسلکي څېړنو او پلټنو په ترخ کې د یوه اماتور لرغونپوه په توګه ساحوي لرغونپوهنه (field archaeolog)، هم له پامه نه ده غورځولې، پر دې سربېره یې ، چې د هېواد له لرو پرتو سیمو څخه د لرغونو ټاټوبو او تاریخي پاتشونو انځورونه راټول کړي دي، سپړنو کېندنو ته یې هم پاملرنه کړې ، چې زه یې دلته د دوو بېلګو په یادولو بسنه کوم:
په ۱۳۵۳-۱۳۵۴ لمریزو کلونو کې یې، چې د ننګرهار ولایت د نور درې (تلکي) پر یوه غونډۍ د یوه لرغوني څلور کوټیز قبر څوک وکېنې ، چې په یوه پر بنه کې ژور کېنل شوي وو، پوهاند زیار د لرغونپوهنې د څانګې ټولو ارونو په پام سره هغه راوسپړه او رابرسېره کړې کوپړۍ یې له اړینو څرګندونو سره د کابل پوهنتون د لرغونپوهنې څانګې مشر ارواښاد مېله بار نورستاني ته د ساتلو او پاللو په موخه وسپارله، د یادولو ده، چې د دغو سپړنو پر مهال ورسره خدای بخښلي سید شمس الدین مجروح هملته په یوه مېلمستون کې مېلمه وو او له نژدې څخه د هغه بهیر ننداره چې وو.
پوهاند زیار خپلې څېړنیزې چارې د لرغوني لیکپوهنې یا پالیوګرافۍ تربریده هم رسولې ، چې د ژبپوهنې او لرغونپوهنې لپاره مرستندویه پوهنیزه څانګه ګڼل کېږي، دی له یوناني نیولې تر میخي سانسکریت، خروشتهي او دین دبیره (د اوستا او پهلوي) هغه پورې د پخوانیو لیکنو او ډبر لیکونو د کار پوه په توګه په ۱۳۵۷ لمریز کال له فرانسوي لرغونپوهانو سره یو ځای د لغمان ولایت د الیشنګ درې د هغه لرغوني ډبر لیک په لیدنه او څېړنه کې ګډون کړی وو، چې پوهنیزه څېړنه او پېژندنه یې لا تر هغه مهاله نه وه، تر سره شوې، دا څېړنه د پالیوګرافي څانګې په تړاو د پوهاند زیار تر ټولو ارزښتمنه ګډه پوهنیزه کارندویې وه، د دې ترڅنګ ، پوهاند زیار په ټولو رسمي او نارسمي څېړنیزو

سفرونو کې، چې د هېواد د لرغونو سیمو او تاریخي ودانیو کوم انځورونه اخېستي، له نیکه مرغه یو شمېر د سویس هېواد د ژبپوهنې څانګې په اړوند زیرمتون کې د افغانستان د ژبو اطلس پروژې په نامه خوندي پاتې دي.

لنډه دا چې پوهاند ډاکټر زیار په بنسټیزه توګه د ژبپوهنې، پښتو ادبپوهنې او توکمپوهنې څانګو د وتلي او بې جوړې سرلاري په توګه د نوي پوهنیز پښتې پر مخ د څېړنو او پلټنو داسې لورې راپرانېستې، چې یو خوا یې ژبپوهنه له دویزو کږو وږو کړنلارو ژغورلې او بل خوا یې د هغو تړلو څېرمه او مرستندویه څانګو، لکه لرغونپوهنې، لیکپوهنې، وګړ پوهنې او نورو پوهنیزو څانګو په ملاتړ خپلې اړې دربکونې څانګې له نړیوالو پوهنیزو ارونو سره سمې د سیالۍ جوکه کړې دي.

زما باور دا دی، چې د پوهاند دوکتور زیار د کالیزې نمانځل د افغاني ویاړونو نمانځنه ده، په دې هیله، چې د اویا کلنۍ نمانځل یې د افغاني کولتور د نویو څېړنو او پلټنو پیلامه سي، ژوند یې اوږد او قلم یې لاپیاوړی غواړم!

په درنښت

پوهاند رسول باوري

WWW.SAMSOOR.COM

# یوه پوښتنه او یو ځواب!

زهیر شینوای

د درانه امر الله صیب له خوا مې د ۱۳۹۲ د حمل ۱۴ نېټه ، دوشنبي پر ورځ د فیسبوک د مسینجر له لارې دا پیغام تر لاسه کړ، چې لیکلي: محترما ! د ننګرهار ولایت او اطلاعاتو او فرهنګ ریاست له خوا د چهار شنبي په ورځ د ښاغلي پوهاند ډاکټر زیار صیب، د عمر د اتیاوم پسرلي یاد غونډه ده؛ نو ما هم د دې لپاره چې په درووند استاد یو څه ولیکم؛ نو په بیړه مې د زیار صیب نوم د انټرنیټ د نړۍ ګوګل ته ورکړ او ګوګل هم راته د پوهاند صیب اړوند خورا زیاتې لیکنې تر مخ کېښودې، د همغو لیکنو دلوستلو له مخې، تاند ویبپاڼې ته ورسیدم، هلته مې د پوهاند صیب په خورا زیاتو علمي لیکنو سترګې ولګیدې او ورسره سم مې د د ډاکټر صیب خسرو سنګروال په هغې مرکې سترګې ښخې شوې، چې د ( پوهاند دکتور زیار سره یو بانډار ) ، تر عنوان لاندې لیکل شوې وه.

د دې مرکې هره پوښتنه او هره ځواب خورا په زړه پورې وه، خوله بده مرغه په ټوله کې د هغې اورول ، د دې ناستې او پروګرام له حوصلې وتلې خبره وه؛ نو ځکه ما ورنه یوازې یوه پوښتنه او ي، ځواب وټاکه.

هغه پوښتنه داسې ده:

استاده ! دا رښتیا ده، چې په لیکنو ، ویناوو، رسنیو کې، پرلپسې رادود بدونکي نوي نوي ټکي او وییونه له سبلمې ستاسې رغاونې دي؟

د استاد زیار ځواب:

وارله مخه چار ناچار ، دا خواشیني او نهیلي څرکندوم ، چې یو ګڼ شمېر لیکوال او ان پوهان له نورو ژبو سره زما د ((سیالۍ)) خبره یوازې او یوازې له نیولو جبېزم سره غوټه کوي او د نوې تیوریکې او مېتودیکې ژبپوهنې په رڼا کې مې ، له پارسي تر انګلیسي پورې د سیالۍ له مخې د نوې پښویې (ګرامر)، وییپوهنې، ارپوهنې (اېټمو لوجۍ)، سیند کښنې

(لېکزیکوګرافي)، لیکلارې (ستایلېستیکس) شعر پوهنه او غږپوهنه (پویتیکس وفونېتیکس)، ګړدود پوهنه (ګویش شناسي) ګړنپوهنه (فرازیولوجي)، د هېواد څوار لس ژبو پر څه له پاسه سل ګړدودونو څېړنې او څه له پاسه درې زره (رسنیزې) لیکنې څېړنې او تر ټولو روسته، د پښتو او پښتنو لومړنی ژب، توکمیز (اېتنو، لینګوېستیک) تاریخ پر بڼه وهي!

نوې رغاونه (نیولوجېزم) زما د ژبنې، فرهنګي هاندو هڅو او هغه هم د یوې یوازېنۍ کره لیکنۍ پښتو د یوې نه بېلېدونکې برخې په توګه دا رڼاوی یا سپیناوی په کار دی، چې دا ټولې علمي، فرهنګي، نوې رغاونې نه دي، بلکې له لویه سره هغه ((څلور ګونې پښتو پانګه))، رانغاړي، چې ما د غورځنګ په هماغو لومړیو کې ډاګیزه کړې ده:

۱. ژوندۍ او دوده ګړنۍ کړدودي، لکه: پړاو، لوبغالی، ډېری (اکثریت) خبریال، کډوال، ستونزه، بړه، پنډغالی، بټې، پرګنه، اړیکي، اړین ولکه، نیوکه، کچ (سطح، مقیاس)، کچه (اندازه، مقدار) شونی، پلور وپېر، لارې چارې (تدابیر)، ماتې ګوډې، خپلمنځي (خودمانی، ذات البیني)، خپلمنځي اړیکي، ترینګلی، نچوړلی، پسوللې، ښاغلی، اغلې...

۲. زړه پانګه، لکه، نړی، هې،اد، یون، ویاړ، ویی، اند، واند (خیال) نوماند، پېر، بهیر، پایله، لامل ناورین، ناتار، رښتنه (حق)، برم، پرتم، بریا (دستاورد) بری او بریا (پیروزی ودست آورد)، ژمنه، پرېږه (طلاق)، دوتنه اړه تړه، اړ او تړ او نور...

۳. رغاونیزه، لکه: روغتون، پوهنتون، زېږنتون، زېرمتون، مرستون، پوهنځی، پالنځی، پخلنځی، خبرځای، تمځای، الوتکه، چورلکه، اورګاډی، خرګاډی، اسګاډی، لاسګاډی، بنستپال، بنستپالي،

WWW.samsoor.COM

ښکېلاک، زبېښناک، نیواک، نیواک ګر، (اشغالګر) بلوساک، بلوسګر)، بلـواک، خپلـواک، پـلاوس، کتنـپلاوی، (امـین دریـځ)، پوهـاوی، ورانپوهای، (ناسم پوهاوی)، ټولګټې، (وزارت فواید عامـه)، همګټې، (هېوادونـه)، ټـولګټي (هېوادونـه)، ویپپانګـه، ویپـزیرمـه، رغـاو، خپـراوی، رغـاوی، سـماوی، نـوملړ، نوملیـک، نوملیکنـه، لوبغـالی، لوبډلـه، اورلوبـه، وزلوبـه، پایلوبـه، لاسرسـی، لاریـون، پر،مخیـون ،لیکلار،چاروا‌ک،زورواک،ولسواکي،تنظیمواکي،کورواکي،ولسمشر .(کره:هیوادمشر)بریښنالیک،(کره،بریښلیک)وګی،وګړپوهنه،ټولنپوه ه
،لرغونپوهنه،توکمپوهنه،ټلواله،شتون،نشتون،منښته،(اقرار)،نمښته( انکار)،لیکنه،څیړنه،شننه،ځیرنه،شونتیا،ګواښنه،پانګونه،ننګونه،ار زونه،وړاندیز،ګوتخنډنه،ګوتنیونه،پوخلاینه،وړاندیز،وړاندوییـنه،وړا ن
دوبینه،غوتنه وړاندبینه(عرضهاوتقاضا)خوندییـنه،پېروپلور،اړه تـړه یا اړاو تړاو(زدوبند،بندوبست)،رخه سخه(کینه او عناد) خپریدا ،سړیدا ،ټوکېدا ...

۴. پـورپانګـه(مسـتعاره) پانګـه ،لکـه: حکومـت، دولـت، تخنیـک، میخانیـک مېکـانیزه، انـیـر، ډاکټـر(دوکتـور)، بانـک، کمسېـون، تېکنالوجي، کمپیوټر، انټرنېټ، وزیر، وزارت، والـي، سفیر، سفارت، یاسـپورت، ویـزه، سـکرتر، آتشـه، مالیـه، دفـاع، عدلیـه، محاکمـه، محکمـه، مخـابرات، اطلاعـات، فرهنـګ، ګمـرک، بیمـه، تعرفـه، آوېز، سپورت(ورزش)، رپورت(رپوټ) (ګرارش)، دېموکراسي (ولسواکي)....

او دا خبـره هـم سـمه نـه ده، چـې دا دومـره نـوي رغـاونې د یـوه نـومېرلي (مشـخص) وګـړي کـار دی، دا د ډېـرو لیکوالـو، رسـنوالو، پوهانـد او فرهنګیالانو او په تېره د ځوان کمپیوټري پښت لـه نوښتونو ګټل کېږي،

چې د کمپیوټر ساینس د نومونو (ګورتپاڼه، کور پاڼه ، ووبپاڼه یا جالپاڼه ، نړیجال... ) او بیا یو زر کلن (پارسي، عبري ) او ونیز نومونه (شنبه، یک شنبه، دوشنبه ، سه شنبه ، چارشنبه... ) را پښتو کول (لومړنۍ ، یونۍ، دونۍ، درنۍ، ځلنۍ، پېنځنۍ، ادینه).

WWW.samsoor.COM

# د پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار نوښتګرانه زړورتیا

د پوهاند وینا ده: له اوبو سره سم تګ مړه کبان هم کولای سم وي هر څوک کولای شي؛ خو ژوند هغه وخت ستونزمن شي، چې د عامې قاعدې خلاف پریوه کړنه لاس پورې شي.
ښاغلي زیار صیب په لسګونو داسې لارو تګ پیل کړې، چې د پښتو ژبې او ادب د لیکوالو پل پرې نه دی، لګېدلی، څوک، چې په نا اشنا لارو ورځي، او یا هم د نوې لارې د جوړېدو فکر ورسره وي؛ نو له بلا ستونزو سره به مخ کېدل پر ځان مني، زیار صاحب د پښتو ژبې او ادب په دغه لاره کې د ستونزو د حل پر وخت معنوي ستونزې ډېرې ګاللي ، کله چې یې نوی فکر رامنځته کړی؛ نو په ورین تندي منلي؛ خو د خپل هوډ آس یې د خپلې موخې تر منزله رسولی دی، زه دلته د ښاغلي د څو نوښتونو یادونه کوم:
(پښتو پښویه) ، د ښاغلي پوهاند ډاکټر زیار صاحب هغه اثر دی، چې د ګرامر د ګړنو او ورسره منځپانګه یې ډېرې سلنه نوښت دی، چې اوس د پښتو ژبې مینه وال او څانګوال یې په بشپړه پاملرنه په کار وړي زه یې دلته خو بېلګې راوړم:
خپلواک او ازونه (واول) ، لښتلیک (جدول) ، بیواک او ازونه (کانسوننټ ګړ پوهنه ،صرف) ، څېز نوم (اسم) ستاینوم (صفت) ، شمېر نوم (عدم) ، نومځري، (ضمیر) ، کړ (فعل) ، کړول (قید) وییکي (ادات) او داسې نور (لیکلاربنود) ، د ښاغلي پوهاند دوکتور مجاوراحمد یو بل نوښتیز اثر دی، چې ډېری بحثونه یې پر یوه (پښتو ، کره پښتو ) راځي ځي، په دغه اثر کې پر رغونیزه یا ګرامري یو رنګي، ویي پانګیزه رنګارنګي، لیکلار او لیکدود ، د رغاونیز یا پښوییز (ګرامري) یووالي آرونه پرنسپونه سربلونه او وستربلونه، د یوې ، کره پښتو لیکلارې اړوند لیکدود ، ټکي پر ټکي

يې مه را پاڼئ، ديوې ، کره پښتو ليکلارې سيندګي ډوله لارښود ، بشپړ بحث شوی دی او د پښتو ژبې ليکوالو يې هغه لارې ښودلي دي، چې هم د نړۍ د باوري ژبو په څير د ليک يوه لارښيي او هم ورو سره يې د منځپانګې په سسمه لېږدونه کې د کره ګړنو او غونډلو ببلګې وړاندې کړي دي.

زه دلته يوازې د (د ) او (له) سربل په خپل ځای ته کارول د غونډلې (جملې) مانا ناکره کوي:

کره : تل به دې ساتم له پردو وطنه.

ناکره: تل به دې ساتم د پردو وطنه.

په څرګنده پورته ببلګه ساده ښکاري؛ خو کومې پاريکۍ ته ، چې ليکوال زموږ پام راړولی دی، نوښتګر فکر دی، په دغه ډول ډېرې ببلګې راوړلای شو.

د پارسي ځيلي او اردو ځيلي پښتون د ناکره غونډلو څو ببلګې راوړم ، چې ښاغلي په نوموړي اثر کې راوړي دي:

ناکره: ته چرته پاتې کېږې؟

کره: ته چېرې اوسې؟

ناکره: د سولېط هر اقدام مفيد تماميدای شي.

کره: د سولې هره هڅه ګټوره پرېوتای شي.

کره: دغه کتاب ما ته چنداني دلچسپ نه دی.

ناکره: دغه کتاب مې دومره نه خوښېږي.

په نوموړي اثر کې د پارسي وييونو هغه کره وييونه وړاندې کوي، چې د پښتو ليکوال له لوري ناکره وييونه ورته کارېدالي يا کرېږي.

WWW.SAMSOOR.COM

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| آبدار | اوبه لرونکی | اوبلن |
| باغدار | بڼ لرونکی | بڼوال |
| دروګر | دبیونکی | لوګری |
| نشانګر | ښکاره کوونکی | ښکارندوی ، څرګندوی |

د نوموړي اثر په سیند ګی ډوله لارښود کې یې د ېری ویېونه په کره بڼه وړاندې کړي دي، چې ډ ېری لیکوالو ناکره کارول ، لکه:

کره (کندوز) ناکره (کندز، قندز).

کره (مخ ګڼه) ، ناکره (د مخ شمېره، د صفې شماره) او داسې نور...

بدلمېچ (پښتو شعر څنګه جوړېږي؟) ، اثر کې ښاغلي زیار صاحب ، چې تر ټولو غوره نوښت کړی دی، هغه د پښتو نظمونه پر سیلابونونیک سیستم د وزن کولو موضوع ده، نوموړي د پښتو شعر یا نظم لپاره د سیلابونونیک تله رامخې ته کړه او د پښتو نظمونو تلل یې د ژبو د جوړښت له مخې د خلیل بن احمد پر عروضي سیستم کچ مېچ کول یې ناټیک کار وباله.

نن سبا موږ ټول پښتو نظمونه د کیفي وزن په سیلابونونیک سیستم وزن کوو او د وزن کچه یې معلوموو.

د ښاغلي زیار صاحب یو بل نوښت په شعر او شاعرۍ کې د ټپیزې رامنځته کول دي، که څه هم ځینې ځوان شاعران د دغه نظمي خپل د رامنځته کولو دعوه کوي او ځینې بیا وایي، چې دغه کار په پښتو نظمونو کې تر ټولو لومړی د لغمان ولایت ولسي شاعر سید باووجان کړی دی، زه ، چې کومه مطالعه لرم او په دغه برخه کې چا شاعري کړي ، هغه ښاغلی زیار صاحب دی، چې همدغه نظم ته یې دلیکلو پر وخت کې (ټپیزه) سرلیک ورکړی دی او په دغه نامه یې د شهرت پوړ ته ور برابر کړی دی.

د سید باووجان د (منګولې) په اثر چې د ښاغلي پوهنوال لال پاچا ازمون په زیار راټول شوی دی، په (۴۶) مخ کې یو منظوم کلام راوړل شوی ، چې ټپیزې ته ورته دی؛ خو د ټپیزې نوم نشو ورکولای؛ ځکه چې یو خو باووجان ورته ټپیزه نه ده ویلې او له بلې خوا د هربند وروستۍ دوې مسرې یې لنډۍ ته ورته وزن اخیستی نه دا ، چې د دغه د لومړیو درو مسرو بنسټ یې پر لنډۍ ولاړ دی، وایي:

زه پـــــه غمـــــو کـــــې شـــــوم غمجنـــــه
کـــــړم غـــــم لـــــه غمـــــه بـــــې وطنـــــه
غمونـــــــو غـــــــم را راوړونـــــــه
کـــــه غـــــم لـــــه غمـــــه ویریدنـــــه
پـــــه مابـــــه راتلـــــه جـــــوړه جـــــوړه غمونـــــه
غمـــــازبـــــه ولـــــې د غمـــــو لـــــوبې کوینـــــه

ځـــــان دې لـــــه ماســـــره پخـــــلا کـــــړه
ســـــپنه خـــــولګۍ دې مـــــا تـــــه راکـــــړه
مـــــا تـــــه دې مـــــخ غمـــــاز تـــــه شـــــاکړه
زړه پـــــه ســـــلاکړه ځـــــواب راکـــــړه
زه دې لـــــه بلـــــې یـــــارۍ وویســـــتم مینـــــه
غمـــــازبـــــه ولـــــې د غمـــــو لـــــوبې کوینـــــه

WWW.SAMSOOR.COM

د تابه ثنګه مدعا وي
تا ته مخ غماز ته شاوی
زما به تا ته دا ویناوي
زړه په سلاکړه جواب دې دا دی
که بله وینې ما ته مه ګوره مینه
غماز به ولې د غمو لوبې کوینه

د زیار صاحب په (اند واند ) شوي ټولګه کې ، چې پر (۱۳۷۹ل) لمریز کال چاپ شوې ده، تر (۱۲) زیات دا سې نظمونه یې پخپله زیار صاحب ورته ټپیزه لیکلې ده او یا هم همدغه ټپیزې خپل ته یې د منځپانګې له مخې بېل سرلیک ورکړی دی، چې په همدې بنسټ د (ټپیزې) خپل پنځو ونکي پوهاند زیار بللی شو، لاندې یې ځو بېلګې را اخلو.

لاندې ټپیزه یې دا ستا په یاد کې تر سرلیک لاندې د ۱۹۹۷ز کال د (۹) میاشتې پر (۴) مه نېټه لیکلې ده.

بې له تا زه د کک په ثېریم
بې له طرمخ دې ورک اندهېریم
له ژوند وژواک دربانده دې تېریم
ستا به زه یاد با به دې هېریم
زه چې قدم پر قدم ږدم تا یادومه

د رنځورو سلامونه ټپیزه په ۱۹۹۷ز کال کې (۹ ) میاشتې پر (۱۸) مه نېټه ویلې ده.

سرمې هسک نه شوله بستره
په درد د ورنځ شپه تر سحره
هم کړی ورځ تر مازیګره
د مازیګر زیړیه لمره
پر روغو وایه د رنځورو سلامونه

د غم کمیس (۱۴\۱۰\۱۹۹۷).

بې تا مې زړه نچوړ نچوړ شي
له ژوند ژواکه هسې موړ شي
دا جوړ جهان را یاندې تور شي
غم دې کمیس نه دی چې جوړ شي
زما له عمره سره سم شول ستا غمونه

ګل ځانګه (۲۲\۱۰\۱۹۹۷ ز):

ګوندې، چې نولس مې بیا شل شي
د ژوند خوښۍ مې یو پر سل شي
بیا مې بالښت د یار ځنګل شي
ځانګه به نن سبا کې ګل شي
ما یې په سرکې سرې غوټۍ لیدلې دینه!

WWW.SAMSOOR.COM

پایله:

ښاغلي پوهاند دوکتور مجاوراحمد زیار په پښتو ژبه او ادب کې ډېرې نوښتونه کړي دي، د نوښت پر مهال د چاپه سپورو او کمزورو نظرونو له خپلې لارې نه دي راګرځېدلی په پوره مړانه او څواکمن هوډ یې د پښتو ژبې او ادب په برخه کې په کاڼو کې لارې جوړې کړي دي.

په پای کې د خوشحال بابا یو بیت راوړم:

قتلمې مې کړې د شهدو ورته سازې
د وربشو په ډوډیو چې چا شخوند کړ

ماخذونه:


۱. زیار، مجاوراحمد ، (۱۳۷۹ل)، اندو واند. علامه سید جمال الدین افغان فرهنګي ټولنه.

۲. زیار، مجاوراحمد ۱۳۸۲ل ، پښتو پښویه. پېښور، دانش خپرندویه ټوله.

.۳. زیار، مجاوراحمد ، ۱۳۸۲ل، لیکلارښود، پېښور، دانش خپرندویه ټوله.

۴. سیدباووجان، ۱۳۷۷ل، منګولې، پېښور، دانش خپرندویه ټوله.

# د استاد زیار اتیایمه زوکالیزه

(یاد غونډې ته پېغام او وېنا )

بخښنه غواړو ، چې د ډېر وس او کوښښ باوجود زمونږ بره خوا ته د درتګ اجازت نامې مرحله په وخت تر سره نه شوه ، په دې کې به یې خبر وي؛خو دغه یو څو کرښې استاد زیار صاحب ته ، یون صاحب او د پروګرام ټولو برخه والو ته درلېږو. هیله ده ، چې دا ګډې وډې کرښې به مو د پښتنې مینې د شرکت د احساس په توګه ومنلې شي.

زه د پښتو اکېډیمۍ او هم له خپله جانبه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د سرحدونو او قبائلي چارو وزارت ، د ننګرهار ولایت مقام او د سرحدونو او قبائلو چارو ریاست ، د ډېر قدرمن او محترم استاد زیار صاحب ، د محترم استاد اسمعیل یون صاحب ، د ننګرهار د قومونو او اولسونو د نمائنده شاعرانو ، ادیباتو او هغو ټولو اشخاصو ، چې دا غونډه یې ترتیب کړې ده او مونږ ته یې په کې د برخه اخیستو وینا کړې ده ، د زړه له تل نه مننه کوم او د کوزې خوا د شاعرانو او ادیبانو نېکې هیلې او ښې ارزوګانې تاسو ته درلېږم.

په دې لنډ تنګ او بیړنده وخت کې مو ډېر وس وکړ ، چې د محترم استاد ډاکټر زیار صاحب دې د ستورې ته د وینا د ګلو ښکلې کډۍ تیاره کړو ؛ خو راته ممکن نه شوه ، چې په دې ورځو کې زمونږه رخصتي وي.

د ظاهر شکیب نه مې د غونډې ترتیبات او غوښتل ، چې هغه د ایمېل له لارې د استاد یون صاحب کتاب راته راولېږه ، کتاب ، چې مې د ایمېل نه رانقل کړو ؛ نو په غبرګو شیشو کې راته نه ښکارېده ، سخت مشکل سره مخ شوم ؛ ځکه چې په لاس راسره دوې شپې وې او کارونه بلا ها راته پراته وو ، یوې خوا ته د پوهنتون نه ا جازت نامه یا د ابن اوسې مسئله مې په دماغو راسوره وه ، بلې خوا ورځې راته د ګهنټو په خساب شوې.

WWW.samsoor.com

محترم استاد زيار صاحب اول ستاسو او بيا دې د يون صاحب خوا نه وې بده، چې مونږ درته يو ازې پښتني مينه او د پښتو مينه درلېږو، هيله ده، چې دا قليل كسير به مو قبول كړئ.

د استاد يون صاحب دغه ارمان خو پوره شوى، چې كه هغه چرته د محترم زيار صاحب په شاګردانو كې ياد شي، او وكولى شي، چې د دې شخصيت د علميت نه نېغ په نېغه استفاده وكړي، د يون صاحب دغه ويار، چې هغه د محترم استاد زيار صاحب د يو څو خاص شاګردانو څخه د كيرونې (قطار) د سر كسانو نه ياد شو او زه هم د خپل استاد په درناوي كې د هغه د ژوند او علمي او ادبي خدماتو د اعتراف په توګه دغه ياد كتاب او ليكلو ، يون صاحب به په دې سره د استاد حق ادا كړى شي، يا نه، ولې زما په فكر د هغه غاړه به په دې خلاصه نه شي، چې هغه د لازياتو خدماتو موقع يو اخې ځوانانو ته پرېږدي، بلكې زما په خيال اوس دېرې ذمه واريانې نېغ په نېغه د ده په اوږو راځي، كه څه هم مونږ پوهېږو ، چې يون صاحب له خدماتو نه ډاريږي؛ خو ترې ارزو مو دا ده، چې هغه دې د خپل نظر غشي د دې دوو نوو دروازو هم را اړوي.

تر كومه، چې په ژوند د يو چا د قدردانۍ يا د هغوي د خدماتو د اعتراف خبره ده؛ نو په دې اړه به زه يوه وړه غوندې خاطره درسره شريكه كړم؛ خوا دې د چا پرې بده نه وي، په حقيقت كې مونږ د خپلو مشرانو، نوميالپو يا خپلو شاعرانو او اديبانو د خدماتو په اعتراف كې ډېر د بخل څخه كار اخلو، هغه كه د كوزې خوا دي او يا كه د برې خوا دي؛ ځكه د دې دستورې په مناسبت دا يقيناً ډېره د ويار خبره ده، چې نن د يو داسې ستر علمي او ادبي شخصيت د خدماتو په اعتراف كې دغه غونډه جوړه شوې ده، چا چې خپل ټول ژوند هم دغو علمي، ادبي او فرهنګي چارو ته منلي دي.

د يو ليكوال په ژوند، د هغه د ژوند او اثارو په حقله څه ليكل اوس يو عام دود دى او د محترم يون صاحب دا خبره په ځاني ده، چې بايد مونږ د خپلو

نوميالیو د کار و زیار څېړنه او اعتراف د هغوی په ژوند کې او کړو ، چې که چرته څه مشکل وي، چې د دوی ترمخه راته حل شي؛ خو باید دا کار یو ائې ځوان کهول ته پرې ښودل به هم سم نتائج رانه وړي، زما په فکر د مشر خېل مرسته یا نظر ورته ضروري دی، د دې نه زما مراد په خپله یون صاحب او هم د د ه رنګا نورو مشرانو ته اشاره ده؛ ځکه چې د دوې په لارښودنه به ځوان کهول ته نه یو ائې د منزل تعین او شي، بلکې د منزل پړاوونه به هم ورته اسان شي.

د محترم استاد یو ځاي کې د انقلاب په معاملاتو هم غږېدلی بلکې که دا او وا ېیو ، چې هغه د انقلاب یو بیړوند غړی هم پاتې شوی؛ نو یې ځایه به نه وي؛ خو استاد تر مونږ او ستاسو په دې ښه پوهېږي، چې انقلاب که سیاسي وي او که فرهنګي ، خپل مداراج لري، کله چې په ټولنه کې یا په یو فرهنګ کې هغه پوړې یا کړې سره نزدې شي؛ نو تري خوځښت پیدا شي او بیا د انقلاب اوازې یا نغمې خورې شي، څنګه چې مخکې ما اووي چې محترم استاد په خپله ټولنه کې د غه دواړه تغیرات له ډېرې نزدې لیدلي او هم په کې متحرک پاتې شوی؛ خو په نتیجه کې د کوم انقلاب چې ده، مرسته کړې ده، هغه د فرهنګي انقلاب پیاوړتیا ده نه چې د بیړوند انقلاب پلویتوب کول، (اوګورئ په دې حواله د یون صاحب هم دغه کتاب، کې د استاد څخه د انټرویوز لړۍ ) .

لنډه دا چې د محترم استاد صاحب ، شخصیت او هم هغه د کار یوه لنډه غونډې جایزه دغه ستاسو په وړاندې د یون صاحب کتاب کې دي ، هر نقد ونظر ، چې د محترم استاد د شخصیت او فن په حواله څوک کول غواړي، په خپله استاد او د هغه اثار ورته حاضر دي.

زه به خپلې خبرې په دې یو څو جملو کې راغونډې کړم:

WWW.SAMSOOR.COM

ځومره چې محترم زیار صاحب په بره خوا کې ځوان طبقه لیکوالو ته ورخوږ دی، په کوزه خوا کې هم دغسې د ځوانانو د زړه ټکور دی، پرته له هغو چې پښتو یې اردو کړې ده او د زیار صاحب لیک ته برهمني لیک وایي.

ما په شخصي توګه د محترم استاد اختیار کړې دغه مفکوره ډېره خوښه ده، چې: المانیان د دې له پاره ژوند کوي، چې کار او کړي، باید مونږ کار او کړو؛ ځکه چې مونږ ته لا ډېر کار پاتې دی.

ستاسو ټولو څخه یو جهان مننه، چې د محترم استاد د دې غونډې په مراسمو کې مو موږ یاد کړو او هم مو زمونږ احساساتو ته موقع ورکړه.

په درناوي

ډاکټر نصرالله جان وزیر

ډائرېکټر پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون، پښتونخوا

چې فریاد یې د ولس او قام فریاد شي
په ټولنه کې خاوند د اعتماد شي
په همت او په پخې ارادي باندې
پوهنتون کې نومیالی او یاد استاد شي
دیوال، باغ او بڼ کې ملیاري کړي
ارمانجن د پښتنو د اتحاد شي
ورته ټیټ په درناوۍ شي ډېر سرونه
چې سرې وي د سرو کوي کارونه
د همزولو په قطار کې چې ممتاز وي
د مسلک د غوړېدو په هڅو هڅو
د هوډمن فکر خاوند او یکه تاز وي
د بریو سر سر منزل ته لاره باسي
کار او زیار کې یې موندلی د ژوند راز وي
د کتاب مینه یې زړه کې په غورځنګ وي
ده خبرنو ته ورکړی نوی رنګ وي
راشه درشه د دوستۍ په کاروبار کې
چا ته کم نه وي راغلی په روزګار کې
د پوهنې، ژبپوهنې سرلښکر شي
هسکه غاړه د ملګرو په کتار شي
ستر ادیب ،نوماند شاعر او پوخ لیکوال شي
سر راپورته کړي به ښکلي ننګرهار کې
په اغزنو لارو ځي رسي منزل ته
ښکلی ګل شي د پښتو د پګړۍ ول شي
چې په زیار یې ټکي توري شپې رڼا شي

WWW.samsoor.com

ګوره ګوره ځلند ستوري د سبا شي
زور او زر وته د هیچا سر ټیټ نه کا
معلم وي د ړندو د لاس امسا شي
تنګ نظره یې چرت زغملی ن شي
د ادب د بڼ بلبل د ژبې سا شي
د وطن په مینه مست وي هسکه غاړه
سم په سمه لاره ځي نه ځي په شاړه
د هېواد ولایتو کلو بانډو ته
لکه باز ځي شنو درو او سردرو ته
منډې تړي ښکته پورته پسې کانډې
چې څه وګټې پښتو او پښتنو ته
په اخلاص خدمت ته ملا وتړي کلکه
لر او بر یې حیران پاتې کارنامو ته
ګاڼې جوړي کا پښتو ناوې د پاره
د بري منزل ته باسي نوې لاره
ورسره غم د وطن او د ملت وي
مخالف د هر خیانت او جنابت وي
قام یې نه وي په مقام باندې خرڅ کړي
بډی خور نه وي غم خور په لوړ همت وي
د کتاب او د قلم سره لوبېږي
طرفدار د حقیقت او صداقت وي
د خپل فکر او د فن په مټ نازېږي
سیاست نه کړي خو سیاست باندې پوهېږي
ابتکار او د کار مینه چې لري څوک
هغه خامخا ګټلی لوړ مقام وي

ميړنـــې دي، چـــې کېـــې ګټـــې پـــه نـــره
ننګيـــالي ولاړ همـــيش پـــه ننـــګ او نـــام وي
ليـــوني د اقتـــــدار او پيســـــه ســـري
رنـــګ يـــې ورک شـــه جوړپيغـــور د ملـــک او قـــام وي
خـــو چـــې ښـــوک پـــه صـــداقت ســـره خـــدمت کـــړي
پـــه هغـــو دي زمـــا ســـل ځلـــې ســـلام وي
(زيـــار) پـــه ډېـــر ښـــه بانـــدې ارزي (عمشـــريکه)
نـــو پـــه يـــاد يـــې ښـــو شـــعرونه ليکـــه ليکـــه

په درښښت
محمد هاشم (عمشريک)

WWW.SAMSOOR.COM